**په 857هـ/ 1453م کې د قسطنطنيې د فتحتې د يادښت په مناسبت د حزب التحرير د امير جليل‌القدر عالم شيخ عطا بن خليل ابو الرشته پيغام**

الحمد لله على نعم الله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه وبعد.

اسلامي امت ته، هغه امت چې د ټولو خلکو د دعوت لپاره بهر کړل شوی دی، د دعوت غوره او نېکو لېږدوونکو، مېلمنو او د دې پاڼې ګرانو لیدونکو ته!

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته

د ملتونو په تاریخ کې داسې روښانه ورځې دي، چې ملتونه وربانديې وياړي، نو څنګه به وي چې دغه ورځې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د زېري د پوره کېدو مهال وي؟ په يقيني توګه چې دا ډول ورځې هغه ستوري دی چې په اسمان کې ځلېږي؛ بلکې لمر دی چې نړۍ يې روښانه کړې او امت يې د اسمان لوړو لمنو ته رسولی دی. د هغو ورځو له ډلې دا مبارکې ورځې هم دي چې اوس موږ پکې يو، د قسطنطينې د فتحې يادوښت ورځې، محمد فاتح د قسطنطينې جګړه او محاصره د ربيع الاول په ٢٦مه پيل کړه، چې د ٨٥٧هـ د جمادي الاول د سه شنبې ورځې په سهار يې فتحه کړه، يعنې محاصرې يې دوې مياشتې وخت ونيو. کله چې محمد فاتح ښار ته بريالی ننوت، له اس څخه راښکته شو او د دې فتحې له امله يې الله سبحانه وتعالى ته د شکر سجده وکړه، بيا يې د "ايا صوفيا" کليسا ته مخ واړوه، چې د بيزانس خلک او ديني علماء هم هلته راټول شوي وو، هغوی ته يې امان ورکړ او امر يې وکړ چې "ايا صوفيا" کليسا دې پر مسجد بدله شي او همدارنګه امر يې وکړ چې د جليل القدره صحابي (ابو ايوب انصاري رضی الله عنه) د قبر پر ځای دې هم مسجد جوړ کړل شي. دا صحابي د هغو لومړيو مجاهدينو په ډله کې شامل و، چې د قسطنطنيې د ازادولو او فتحې اقدام يې کړی و او هلته وفات شو. الله متعال دې رحم وربانديې وکړي او مغفرت دې ورته وکړي. وروسته محمد چې د فاتح لقب ورکړل شو، وپتېيله چې قسطنطنيه د ادرنه پر ځای د خپل دولت مرکز او پلازمېنه وټاکي او له فتحې وروسته يې قسطنطنيه اسلامبول (د اسلام ښار يا دار اسلام) ونوموله، چې اسلامبول بيا پر استانبول مشهور شو. محمد فاتح ښار ته ننوت او ايا صوفيا ته ولاړ، هلته يې لمونځ وکړ او د الله سبحانه وتعالى په فضل له کليسا څخه پر مسجد بدله شوه. دغه حالت دوام وکړ او ايا صوفيا داسې پاک او ځلېدونکی مسجد و چې مسلمانانو يو په بل پسې جوړاوه او رغاوه؛ تر دې چې د وخت جنايتکار مصطفى کمال قدرت ته ورسېد او خلک يې هلته له لمانځه منع کړل او هغه سپېڅلی ځای يې د سهار او ماښام د ګرځندويو لپاره موزيم جوړ کړ.

نو په دې توګه هغه زېرى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل حديث کې بيان کړی و، پر حقيقت بدل شو. له عبد الله ابن عمرو ابن عاص رضی الله عنه څخه روايت دی چې وايي: په داسې حال کې چې موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر شاوخوا راټول وو او ليکل مو کول چې يو چا له هغه صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه: کوم ښار لومړی فتحه کېږي، قسطنطنيه که روم؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**«مَدِينَةُ هِرَقْلَ تُفْتَحُ أَوَّلاً، يَعْنِي قُسْطَنْطِينِيَّةَ»**

(دا حديث احمد په مسند او حاکم په مستدرک کې روايت کړی دی)

***ژباړه:*** *د هِرَقل ښار يعنې قسطنطنيه لومړی فتحه کېږي.*

د دغه حديث په اړه ويل شوي دي، چې د شيخينو د شرط له نظره صحيح دی؛ خو دوی دواړو دغه حديث نه دی تخريج کړی. ذهبي په تخليص کې د دغه حديث په اړه داسې تبصره کړې ده: د مسلم او بخاري د شرط مطابق دی. همدارنګه په حديث کې راغلي چې

عبد الله ابن بِشر ابن خَثعَمِي له خپل پلار څخه روایت کړی او پلار یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي، چې ویې فرمایل:

**«لَتُفْتَحَنَّ الْقُسْطَنْطِينِيَّةُ فَلَنِعْمَ الأَمِيرُ أَمِيرُهَا وَلَنِعْمَ الْجَيْشُ ذَلِكَ الْجَيْشُ»**

***ژباړه:*** *قسطنطنیه به هرو مرو فتحه شي، هغه څومره غوره امیر دی او څومره غوره لښکر یې دی!*

د خَثعَمِي پلار وايي: مَسلَمه ابن عبد الملک زه وروغوښتم او په دې اړه یې وضاحت راڅخه وغوښت او ما هم ورته روښانه کړه. ده هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زېري په اورېدو د قسطنطنیې د فتحې لپاره جګړه وکړه. دغه حدیث احمد روایت کړی دی. په مجمع الزوائد کې د دغه حدیث په اړه راغلي دي: "احمد، بزار او طبراني روایت کړی دی او رجال (راویان) یې ثقه دي". تر دې چې دغه زېری د محمد الفاتح په نامه یوه ځوان چې عمر یې تر ۲۱ کلونو زیات نه و، په لاسونو پوره شو؛ خو ده له خپل ماشومتوبه په مستقیم ډول دې چارې ته ځان چمتو کاوه او پلار یې دویم سلطان مراد خپل زوی ته ځانګړې پاملرنه کوله او دی یې د خپل وخت د غوره علماوو شاګرد کړ، چې یو یې احمد ابن اسماعیل الکوارانی دی او سیوطي هغه د فاتح لومړی استاد ګڼلی او په اړه یې ویلي دي: کوراني ستر عالم او فقیه دی، چې د وخت علماوو د هغه پر غوره والي او متانت شاهدي ورکړې ده؛ بلکې هغه د خپل وخت "ابو حنیفه" بولي. همدارنګه یو استاد یې "آق شمس الدین سنقر" دی، چې د محمد فاتح له ماشومتوبه یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث د هغه په ذهن او ضمیر کې زرغوناوه او د دې موخې د تر لاسي لپاره یې هڅه کوله. شیخ آق شمس الدین محمد الفاتح ته د قرآن کریم، حدیث، نبوي سیرت او فقهې اساسي علوم تدریسول. همدارنګه عربي، فارسي او ترکي ژبې یې ورزده کړې، د دې ترڅنګ د ژوند ځینې ورځني علوم لکه ریاضیات، ستورپوهنه (نجوم) او تاریخ یې هم ورته تدریس کړل. پر دې سربېره نوموړي د اس په سپرلۍ او جنګي فنونو کې بېساري زړورتیا درلوده، چې الله سبحانه وتعالی نوموړي ته ورکړې وه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ستاینې یې په اړه صدق وکړ او محمد فاتح همغه غوره امیر او لښکر یې همغه غوره لښکر و چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې زېری ورکړی و. داسې لښکر و چې لښکریانو یې له ایمانه ډک زړونه لرل او لاسونه یې له وسلې او چمتووالي ډک او د جهاد په رښتینې انګېزه روزل شوي وو، د الله متعال دین ته یې نصرت ورکړ او الله سبحانه وتعالی هم په ستره فتحه او بري دوی ته نصرت ورکړ؛ نو حمد او ستاینه یوازې د عالمیانو د رب لپاره ده.

محمد الفاتح ژور لید درلود او د بصیرت خاوند و، هر وخت به یې چې تشه او نیمګړتیا لیدله، ژر تر ژره یې ډکوله او حللاره یې ورته موندله او هر کله به یې چې مخ ته خنډ راتله، د الله سبحانه وتعالی په مرسته به یې له منځه وړه. د قسطنطنیې د فتحې لپاره د خپل امارت پر مهال له دریو خنډونو سره مخ شو چې په خپله هوښیارۍ او فردي مهارت یې د هغو د حل اقدام وکړ:

۱. لښکریانو یې د هوا له یخنۍ او دا چې د دېوالونو پر شاوخوا په خلاصه فضا کې اوسېدل، شکایت ورته وکړ؛ محمد فاتح پناځای ورته چمتو کړ چې د اړتیا پر مهال ورتلل. ده نه غوښتل چې لښکر یې له محاصرې لاس واخلي، که څه هم محاصره اوږدېده او نه یې غوښتل چې لښکر یې د مسلمانانو د نورو لښکرو غوندې، چې له قسطنطنیې سره جنګېدل، بېرته راوګرځي؛ بلکې غوښتنه یې دا وه چې تر هغه بېرته ګرځېدل نشته، څو چې قسطنطنیه د الله سبحانه وتعالی په اذن فتحه نه شي.

۲. د قسطنطنیې دېوالونه له دریو پوړونو جوړ وو او د هر پوړ تر منځ درې متره واټن موجود و، محمد فاتح په دې قضیه کې حیران و او په هغه وخت کې داسې پرمختللې وسلې نه وې، چې د زیات تخریب قوت ولري او خورا ځواکمنه وسله یې منجنیق و چې متوسطې ډبرې یې غورځولې او په دومره سترو دېوالونو کې یې یوازې د یوه کوچیني سوري جوړولو وړتیا درلوده. محمد فاتح د نړۍ نظامیان تر نظر

لاندې ساتل، څو خبر ورته راوسېد چې د «اوربان» په نامه يو تجربه‌کار انجينير د داسې توپونو جوړولو تيوري لري چې د ديوالونو د نړولو وړتيا لري، اوربان دغه مهارت او خدمتونه د قسطنطنيې امپراتور ته وړاندې کړل، خو هغه پاملرنه ورته ونه کړه او په بدل کې يې محمد فاتح ښه هرکلی وکړ، ډېر مالونه يې ورکړل او ټول هغه امکانات يې ورته چمتو کړل چې په دې اختراع کې يې مرسته ورسره کوله. اوربان د عثماني دولت د انجينيرانو په همکارۍ د توپونو په جوړولو پيل وکړ او محمد فاتح خپله د دغو توپونو د جوړولو څارنه کوله، د دريو مياشتو په تېرېدو اوربان د دريو سترو توپونو په جوړولو بريالی شو. د توپ د مرمۍ وزن يې يو نيم ټن په پام کې ونيو. اوربان نه غوښتل چې د دغو توپونو ازموينښت د قسطنطنيې په ديوالونو کې وکړي، ځکه که د تمې وړ پايله تر لاسه نه شي، دا کار به د مسلمانانو پر روحيه منفي اغېز وکړي. نو پر دغه اساس يې ازموينښت په ادرنه کې تر سره کړ، چې د الله سبحانه وتعالی په فضل بريالی و او دا درې توپونه يې له ادرنې څخه د قسطنطنيې د دېوالونو د نړولو لپاره هغو نږدې انتقال کړل، چې په پايله کې د روم د تسليمۍ لامل شول.

۳. بله موضوع چې د هغه ذهن يې بوخت کړی و، هغه دا وه چې د قسطنطنيې د شاوخوا ديوالونه د خليج په سيمه کې کمزوري وو، مګر روم هم په خليج کې د ديوالونو په کمزورۍ پوهېده؛ خو بيا هم ډاډه و چې د مسلمانانو کښتۍ د تنګې د تړل کېدو له امله هغه ځای ته د رسېدو وړتيا نه لري؛ خو محمد فاتح چې الله سبحانه وتعالی لار ورته پرانيسته، کښتۍ يې د خليج د يوالونو په مخامخ غونډيو وخېژولې او دغه سيمه د «طلايي ښکر» په نامه يادېږي. ده په غونډيو لرګي کېښودل او پر لرګيو يې زيات تېل او غوړي واچول، بيا يې کښتۍ پر دغو لرګيو وښويولې او په يوه شپه کې يې ۷۰ کښتۍ خليج ته ښکته کړې، دې چارې روميان سرګردانه او لاروکي کړل. کله چې سهار رڼا شوه او د مسلمانانو کښتۍ يې په خليج کې وليدې، زړونو ته يې وېره ننوته او په پايله کې فتحه او نصرت د مسلمانانو په برخه شول.

**ګرانو ورونو! د قسطنطنيې د فتحې د څرنګوالي برخې مو د دريو دلايلو له امله درته بيان کړې:**

لومړی: د تذکر په موخه، ترڅو هر د بصيرت خاوند ووينې چې کله اسلام عملي شي، مسلمانان او خپله اسلام به څومره عظمت ولري او هغه مهال به کفار او کفر د مقاومت هېڅ وړتيا ونه لري، بلکې حق به سرلوړی شي او د (الله اکبر) نارې غوندې به انګازې وکړي، لکه څنګه چې فارس او بېزانس سر ورته ټيټ کړ او ژر به د الله متعال په امر روم چې د بېزانس بله برخه ده، هم ورته په ګونډو شي، ترڅو په دغه ترتيب د روم د فتحې په اړه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زېري دويمه برخه هم عملي مصداق پيدا کړي.

دويم: د دې لپاره چې ستاسو زړونه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د درې ګونو زېريو د پوره کېدو په اړه ډاډ پيدا کړي، رسول الله صلی الله عليه وسلم د قسطنطنيې د فتحې، د روم د فتحې، د نبوت پر تګلاره د خلافت د بيا تاسيس او له يهودو سره د جنګېدو او د هغوی د سختې ماتې زېري ورکړي دي او پوهېږو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپل نفس له هوا څخه خبرې نه کوي او څه چې وايي وحيې ده، چې وربانديې نازلېده. د رسول الله صلی الله عليه وسلم زېري تر اوسه نه دي عملي شوي او د الله سبحانه وتعالی په غوښتنه به قطعاً عملي شي؛ خو بايد بايد له ياده ونه باسو چې دغه زېري به موږ ته له اسمانه د ملايکو په وسيله او د يوې ډالۍ په توګه عملي نه شي، بلکې تل الهي سنت دا دی چې موږ الله سبحانه وتعالی ته نصرت ورکړو، ترڅو هغه موږ ته نصرت راکړي او په دې توګه د هغه تعالی شريعت عملي کړو او د ستر دولت بنسټ يې لوړ کېږدو، څه مو چې په توان کې دي چمتو کړو او بيا د هغه تعالی په لاره کې جهاد پيل کړو؛ هغه مهال به ځمکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په درې ګونو زېريو چې تر اوسه نه دي عملي شوي، روښانه شي او ځمکه به يو ځل بيا د خلافت د نور شاهده وي.

دريم: وروسته له دې چې کافر غرب د عربو او ترک خاينانو په مرسته په ۱۳۴۲هـ/ ۱۹۲۴م کال کې د خلافت په سقوط بريالی شو او دغه سقوط يې د قسطنطنيې له فتحې سره موازي وګڼه او په دې توګه يې خپل له لاسه وتلی قدرت بېرته راوګرځاوه. له هغه مهال وروسته د غرب ټوله هڅه وهاند دا شو چې په ټول توان د خلافت د بيا تاسيس خنډ شي، ترڅو هغه توان او قدرت چې بيا يې لاس ته

راوړی، یو ځل بیا له لاسه ورنه کړي، په ځانګړې توګه د اسلامي خاورو له استعمار وروسته یې تل د مسلمانانو په خاورو کې د جریانونو فعالیت ته پاملرنه کوله. خو کله چې په ۱۳۷۲هـ/ ۱۹۵۳م کال کې حزب التحریر تاسیس شو او د غرب پام شو چې د دغه حزب د فعالیتونو د ملا تیر او برخلیک ټاکونکې قضیه د خلافت بیا تاسیس دی او ویې مونده چې حزب التحریر په خپله دغه موخه کې بشپړ جدي دی او ملا یې تړلې ده؛ خپلو مزدورو چارواکو ته یې امر وکړ، چې د حزب د فعالیتونو مخه ونیسي او وګړي یې په مختلفو سیمو کې تعقیب، بندي او شکنجه کړي او حتی په شهادت یې ورسوي او په ځینو سیمو کې یې په اوږدمهاله او ابدي زنداني کېدو محکوم کړي. وروسته یې نور اسالیب لکه دروغ، فرېب او په بشپړه بې شرمۍ د حقایقو بدلون وراضافه کړل. د دې لپاره چې د دوی په خپل ګومان دا افتراوې او بهتانونه اغېز ولري، هغه کسان چې پر ځان یې نوم مسلمان ایښی و او د اسلام جامه یې اغوستې وه، په دې برخه یې رامخکې کړل او وروسته ځینې کسان چې حزب یې پرېښی و یا حزب مجازات کړي وو، په دغو افتراوو کې ورسره یو ځای شول. په دې توګه دغو مختلفو اړخونو یو ځای په دغو افتراوو، فریب او د حقایقو په بدلولو کې ګډون وکړ او هر یوه خپل رول درلود: کفار، منافقان او ډارن او وروسته کم شمېر کسان چې حزب یې پرېښی و یا حزب مجازات کړي وو او هغو کسانو چې په زړونو کې یې ناروغي درلوده، ټولو د حزب پر وړاندې په دغه دسیسه او افترا کې ګډون وکړ او خپل دغه فعالیت ته یې په هر پړاو کې په زهرجنو لارو چارو او ماهرانه دروغو دوام ورکړ. کله چې په یوه فرېب کې ناکامېدل، بدل فرېب یې کاروه؛ خو دا یې هېروله چې د حزب ځوانان داسې پاک فکر، سرعت البدیهه او ژور درایت او ذکاوت لري، چې خبیث او طیب (نېک او بد) په اسانۍ توپیروي او نه پرېږدي چې هېڅ دروغ ورپورې وتړل شي. پر دې سربېره چې خپلو دروغو ته یې د زینت ورکولو لپاره وسایل درلودل، دغه راز د حقایقو د بدلون د ښکلي ښودو لپاره یې ډېر زیار وایسته او ځانونه یې ستړي کړل؛ خو بیا هم دغو دروغو او فرېب د حزب په ځوانانو کې هېڅ اورېدونکي غوږونه ونه موندل او نه یې هېڅ کوم بادرایته مسلمان پیدا کړ، بلکې د قرآن کریم په تعبیر سراب ته ورته دي:

﴿**كَسَرَابٍ بِقِيعَةٍ يَحْسَبُهُ الظَّمْآنُ مَاءً حَتَّىٰ إِذَا جَاءَهُ لَمْ يَجِدْهُ شَيْئًا**﴾ [النور: ۳۹]

***ژباړه:*** *د کافرانو اعمال سراب ته ورته دي، چې په بې اوبو او بې وانبو دښته کې تږی د اوبو ګومان پرې وکړي، چې ورپسې ورشي، اصلاً هېڅ شی په لاس ورنه شي.*

هر مکر یې چې وکړ، هر خباثت یې چې په کار واچاوه او هر بد یې چې د حزب او د هغه د رهبرۍ پر وړاندې ترسره کړ، په دغه ګومان چې پر حزب به اغېز وکړي، ګومان یې له خاورو سره خاورې شو او د الله تعالی په غوښتنه به خوار او نهیلي خپل لومړي حالت ته وروګرځي، له خپلو دروغو، دسیسو او مکرونو څخه به هېڅ ګټه تر لاسه نه کړي او که هر څومره زیات هم وي ﴿**وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ**﴾ یعنې دغه ناوړه مکرونه یوازې د هغو د خاوندانو لمن نیسي. دوی به د خپلو دغو اعمالو عاقبت له الله سبحانه و تعالی سره پیدا کړي، که هر څومره یې دغه افتراوې او مکرونه زیات هم وي ﴿**وَقَدْ مَكَرُوا مَكْرَهُمْ وَعِنْدَ اللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ**﴾ یعنې دوی خپل وروستی مکر او فرېب وکاراوه، خو الله یې له ټولو مکرونو خبر دی، که څه هم مکر یې دومره وي چې غرونه له خپله ځایه وخوځوي.

په پای کې باید ووایو چې ستاسو ورونو کلک او محکم دریځونه چې تل پر حق او نصیحت ولاړ دي او د هغو مکررو حملو پر وړاندې چې د حق د دعوت پر وړاندې کېږي، موږ ته د اصحابو رضی الله عنهم موقف رایادوي، چې دوی هم په سختیو او کړاونو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حکیمانه او سترو دریځونو پسې اقتدا کوله. هو! ستاسو موقف هم ثابت او محکم دی، چې هېڅکله په فتنو او محنتونو کې نه کمزوری کېږي، بلکې ستاسو هوډونه پیاوړي او حنجرې مو د حق د نارې لپاره لا رسا کېږي، دنیا یو ځل ده، خو آخرت په ځلونو غوره دی. نو خوښي ده د حزب لپاره چې تاسو لري او خوښي ستاسو پر حال چې حزب لرئ.

﴿**رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْماً تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ*لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ**﴾ [النور: ۳۷- ۳۸]

***ژباړه:*** *هغه کسان چې تجارت او معامله يې د الله له ذکر او لمانځه او ذکات ورکولو څخه نه غافلوي؛ دوی له هغې ورځې وربېږي چې زړونه او سترګې پکې بدلېږي او پرېشانه کېږي. ترڅو چې الله يې د نېکو کارونو بدله ورکړي او له خپل فضل څخه يې بدله ورزياته کړي؛ ځکه الله چې هر چا ته وغواړي بې حسابه روزي ورکوي.*

وروستۍ خبر دا چې زه د الله سبحانه وتعالی دربار ته دعا او زارۍ کوم، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زېريو د عملي کېدو بهير پيل شي او زېري يو په بل پسې د عمل جامه واغوندي او په دې توګه د دغه امت د خلافت د بيا راتګ شاهد وو. وروسته د دغه امت قدس ازاد کړو، ورپسې روم فتحه کړو، لکه څنګه مو چې مخکې بېزانس هم ازاد کړ او په دې توګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم احاديث مصداق پيدا کړي. همدارنګه له الله متعال څخه غواړم چې له موږ سره مرسته وکړي چې خپل کار په احسان او نېکۍ ترسره کړو، څو د عزيز او رحيم الله سبحانه وتعالی د نصرت اهليت لاسه ته راوړو ﴿**وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ* بِنَصْرِ اللَّهِ ۚ يَنصُرُ مَن يَشَاءُ ۖ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ**﴾.

**و السلام عليكم و رحمة الله و بركاته**

**۱۴۴۱هـ، د جمادی الأولی اومه، پنجشنبه**

**۲۰۲۰م، د جنوري ۲مه**

**ستاسو ورور عطاء بن خليل ابو رشته - د حزب التحرير امير**